بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقــــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۲۹/ شعبان المعظم /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ۱۰ / حوت/۱۴۰۳هـ، ش**

## د رمضان المبارک په میاشت کې د روژو ، تراویحو او د قرآن عظیم الشان د ختمونو فضیلتونه

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی خاتم الأنبیاء والمرسلین، نبینا محمد وعلی آله وصحابته أجمعین، وعلی من تبعهم بإحسان إلی یوم الدین، وعلینا وعلی عباد الله الصالحین.أما بعد: قال تعالی: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ } [البقرة:۱۸۳]

**ګرانو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

**۱- د رمضان المبارک په میاشت کې د روژو فضیلت:**

رمضان المبارک د روژو، د اجرونو، عبادتونو، ثوابونو او برکتونو میاشت ده.

روژه نیول بدني عبادت دی او زیات اجرونه او ثوابونه لري ؛ خو د رمضان المبارک میاشتې روژه نیول په اسلام کې ځانګړې مقام او فضیلت لري.د رمضان المبارک روژه د اسلام له پنځو بناګانو څخه ده. الله تعالی فرمايلي دي: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ } البقرة :(۱۸۳)

ترجمه:- ای مؤمنانو! فرض شوی ده پر تاسو روژه لکه څرنګه چې فرض شوی وه په هغو خلکو چې له تاسو مخکې تیر شوي دي ، ددې لپاره چې تاسې تقوا دار شی.

**توضیح:** په تیرو امتونو باندې هم روژې فرض وې، خو هغوی په کې تحریف راوستلو او نصاراو روژې پنځوسو ورځو ته ورسولې. بیا چې کله په ګرمۍ کې د پنځوسو روژو نیول ورته سخت شول ،نو هغه یې د پسرلي موسم ته واړولې. او یهودو روژې نیول پریښودل په کال کې به یې یوه ورځ روژه نیوله ، هغه هم په هغه تاریخ کې په کومه ورځ چې الله تعالی موسی علیه السلام ته د فرعون څخه نجات ورکړی ؤ.

تیرو امتونو به چې کله روژه ماته کړه ، نو تر هغې ورته خوراک او څښاک جائز وو چې ویده شوي به نه ؤ ، کله به چې ویده شول نو په ویده کیدو سره به یې روژه شروع شوه او که د شپې به له خوبه راپاڅیدل نو خوراک او څښاک وربانديې بند ؤ. تفسیر القرطبي (۲/ ۲۷۵)، روح المعاني (۲/ ۵٦)

د رمضان المبارک په رڼو کې بې شمیره دیني، اخلاقي او صحي ګټې او فائدې پرتې دي لکه د نفس پاکې ، تهذیب او تزکیه له ناوړو اخلاقو او ناکاره عادتونو څخه د مثال په ډول شرارت، کبر، غرور ، بخل... او نفس په نیکو او غوره اخلاقو باندې روزل دي لکه صبر. حلم، سخاء ،کرم او د نفس سره مجاهده.

په روژې سره بنده خپل نفس پیژني او خپل حاجت پیژني او الله تعالی ته خپلې محتاجی او ضعف ته متوجه کیږي او د الله تعالی

د نعمتونو قدر او ارزښت ته متوجه کيږي او د فقيرانو او بې وزلو خلکو له حال څخه خبريږي ، چې په نيتجه کې د الله تعالی د نعمتونو شکر وباسي  او د بې وزلو او فقيرانو لاس نيوی کوي او د هغوی سره خواخوږي کوي.
د رمضان المبارک روژه د تقوی يوه شعبه ده او الله تعالی ته دقرب او نزديکت وسيله ده. د رمضان المبارک روژه د انسان د بدن رګونه تنګوي او شيطان ته په کې تلل راتلل سختوي او د مسلمان په نفس کې د ايمان قوت پياوړی کوي او د ګناه عادت په کې کمزوزی کوي.
حاذقو د طب علماوو په دې اعتراف کړی دی چې په روژې سره د بدن اضافي او ضرري شحميات ذوب کيږي او ناکاره اخلاط له منځه ځي او جسم ته صحت ، روغتيا وربښي او نفسياتو ته ارامي او سکون او اطمينان ورکوي.
د رمضان المبارک روژې له دې امله لوی مقام لري چې دا په هر مکلف مسلمان باندې فرض دي او فرضي عمل لره په نفلي عمل باندې زياته برتري حاصله ده.له بل پلوه نور فرضي عبادات يا قولي او فعلي دي لکه لمونځ او حج چې د قول او فعل څخه عبارت دی يا يواځې فعلي دي لکه د زکات ورکول، خو د روژې عبادت د قول او فعل څخه عبارت نه دی ، بلکې له مفطراتو څخه دځان ساتل دي، چې پټ عبادت دی او له الله جل جلاله څخه علاوه نور هيڅوک ور باندې په نيولو يا خوړلو نه خبريږي د همدې وجی نه الله تعالی فرمايلي دي چې د روژې اجر به زه په خپله ورکوم؛ ځکه چې روژه له رياء پاکه زما د رضا حاصلولو لپاره نيول کيږي او يواځې زه ورباندې خبريږم.
په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ الْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلاَّ الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِى وَأَنَا أَجْزِى بِهِ يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ ». صحيح مسلم (٣ /١٥٨)
ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي د هر بني آدم عمل يوه نيکي زياتولی شي د لس چنده څخه تر اوو سوو چندو پورې .الله تعالی فرمايي پرته له روژې څخه ځکه روژه زما لپاره نيول کيږي او زه به يې بدله په خپله ورکوم، (بنده ) پريږدي خپل شهوت او خوراک زما په خاطر.
په پورتني حديث کې دوه خبرې قابل د غور دي يوه دا چې (فَإِنَّهُ لِي ) يعنې د بني آدمانو په نورو اعمالو کې امکان د رياء شته علاوه د روژې څخه چې په دې کې پرته داخلاص څخه بل هيڅ نشته. يا داچې دا زما او زما د بنده ترمنځ راز دی او پرته زما څخه وربانډې نور څوک نه خبريږي.المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم (٥ /٤)
او بله خبره (وَأَنَا أَجْزِى بِهِ) ده .په دې جمله کې دوه اعزازونو ته اشاره ده يوه داچې د نورو عباداتو اجر او عوض به د ملائکو په واسطه ورکول کيږي، خو د روژې اجر او ثواب به الله جل جلاله (بلاکيف) په خپله ورکوی، نو اجر ورکوونکی به رب العالمين وي، چې دا ډير فضيلت دی. او بل داچې په دې جمله کې د هغه اجر عظمت او فضيلت ته اشاره ده چې الله تعالی يې بنده ته ورکوي چې هغه به څومره مبارک او څومره لوی اجر وي. حافظ ابن حجر ددې حديث په شرح کې وايي(لِأَنَّ الْكَرِيم إِذَا قَالَ : أَنَا أَتَوَلَّى الْإِعْطَاء بِنَفْسِي كَانَ فِي ذَلِكَ إِشَارَة إِلَى تَعْظِيم ذَلِكَ الْعَطَاء وَتَفْخِيمه). فتح الباري (٦ /١٢٩)
ترجمه:- ځکه کله چې کريم او مالک ذات ووايې چې ددې کار عوض زه په خپل لاس ورکوم ، په دې کې اشاره وي د عوض عظمت ته او لوی والي ته.
ددې حديث مطلب ته په يو بل حديث کې هم اشاره شوی ده چې په هغه حديث کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» صحيح البخاري ت (١ /٤٢)
ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: څوک چې د رمضان د مياشتې روژه ونيسي د ايمان په بنا او لپاره د طلب د رضاء د الله، وبه ښل ورته هغه چې تير شوي دي دده له ګناهونو څخه.
يعنې صغيره ګناهونه به ورته وبښل شي او د کبيره ګناهونو د ښلو اميد هم کيدای شي. د مرقاة المفاتيح (٤/ ١٣٦٢)

همدارنگه قرآن کریم چې د هدایت کتاب او معجز کتاب دی د رمضان المبارک په روژه کې نازل شوی دی.الله جل جلاله فرمایلي دي: ( شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ).الْبقرة:(۱۸۵)

ترجمه:- میاشت د روژې هغه میاشت ده چې نازل کړی شوی دی په دې کې قرآن چې هدایت دی لپاره د خلقو، او دلیلونه دي ښکاره (له جنسه د هغو شیانو) چې هغه لاره ښیي، او بېلوونکو د حق او باطل دی.

**توضیح:** یعنې د لوح محفوظ څخه نازل کړی شو اسمان دنیا ته بیا جبرائیل علیه السلام یو آیت او دوه آیتونه په مختلفو وختونو کې په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې په یویشت کلونو کې نازل کړ. بحر العلوم للسمرقندي (۱/ ۱٤۸)

په سورت کې قدر کې راځي الله جل جلاله فرمایي چې مونږ دا قرآن کریم د لیلة القدر په شپه کې نازل کړی دی.

په روایات کې راځي چې په پیغمبرانو چې کومې صحیفې نازل شوي دي هغه د رمضان المبارک په میاشت کې نازل شوي دي، خو په مختلفو تاریخونو کې نازل شوې دي، چې دا د رمضان المبارک په عظمت او فضیلت دلالت کوي. تفسیر ابن کثیر / دار الفکر (۱/ ۲٦۸)

د رمضان المبارک د روژې په آخري عشره کې یوه شپه ده چې په دغه شپه کې عبادت د زرو میاشتو له عبادت څخه غوره دی.( لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ. تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ .سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ) القدر:(۳-۵)

ترجمه:- شپه د قدر خیر غوره ده له زرو میاشتو څخه .نازلیږي ملائکې او روح په دغه شپه کې په اذن حکم د رب د هغوی. لپاره د هر کار (تاکلي مقرر شوی په دغه راتلونکي کال کې) امان سلامتیا ده (له هر آفته). دغه شپه ده تر وخته د ختلو د سبا پورې (دسلامتیا، فضیلت، برکت،کرامت).

په یو بل حدیث شریف کې راځي چې په آخرت کې به د روژه دارانو لپاره خاصه دروازه وي چې هغې ته (ریَّان) خړوبوونکی ویل کیږي. په حدیث شریف کې راځي: (فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلاَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلاَةِ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الجِهَادِ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ ) متفق علیه

ژباړه:- چاچې صدقه کړل د الله تعالی په لاره کې جوړه جنسونه آواز به ورته کولی شي د جنت ددروازو څخه چې دا غوره دروازه ده ستا لپاره، پس څوک چې د لمونځ ګذارو له ډلې وي هغه ته به د لمانځه ددروازې څخه آواز کولی شي او څوک چې د جهاد والا وو څخه وي هغه ته به د جهاد ددروازې څخه آواز کولی شي او څوک چې د روژې والاوو څخه وي هغه ته به د روژې د دروازې څخه آواز کولی شي چې ریان ورته ویل کیږي او څوک چې د صدقې والا وو څخه وي هغه ته به د صدقې له دروازې څخه آواز کولی شي.

روژه د ګناهونو او د جهنم په مقابل کې ډال دی او مسلمان به په روژې سره په دنیا کې له ګناه څخه ځان ساتي او په آخرت کې به روژه د جهنم په مخ کې ډال وي او د روژه دار د خولی بوی الله تعالی د مشکو څخه غوره دی. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ« الصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلاَ يَرْفُثْ وَلاَ يَجْهَلْ وَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ». صحیح البخاري ت (٤/ ٥٦۳)

ژباړه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: روژه ډال دی، نو (روژه دار) دې قبیحه خبرې دې نه کوي او جهالت دې هم نه کوي ، که چیرې یو سړي ورسره جګړه کوله او یا یې ورته کنځل کول نو ورته ودې وایې چې زه روژه یم دوه ځله دې ورته ووایې. قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی خامخا بدبویې د خولې د روژه دار ډیر خوږ دی الله ته د خوشبوی د مشکو څخه.

د رمضان المبارک میاشت روژه درې برخې لري یوه لومړۍ برخه چې هغه لس لومړنۍ ورځې دي . دوهمه برخه منځنۍ لس ورځې دي او دریمه برخه هغه اخري لس ورځې دي. چې لومړۍ برخه یې رحمت دی،دوهمه برخه یې مغفرت دی او آخري برخه یې له اور څخه خلاصی دی. د یو حدیث په یوه برخه کې راځي: (وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ). صحیح ابن خزیمة ( ۲ /۹۱۱) .

ژباړه:- حضرت سلمان رضي الله عنه وايې چې بيا رسول اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ددی مياشتې لومړی برخه رحمت ده او منځنۍ برخه يې مغفرت ده او وروستی برخه يې د دوزخ داور نه خلاصون دی.

د رمضان المبارک روژې د فضائلو څخه دا هم ده چې په دې مياشت کې ګناهونه ښنل کيږي. په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقُولُ « الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ ». صحيح مسلم (١/ ١٤٤)

ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به ويل: پنځه لمونځونه او د يوې جُمعې څخه تر بلې جُمعې پورې او د يو رمضان څخه تر بل رمضان پورې محوه کوونکي د هغه ګناهونو دي چې ددوی ترمنځ دي کله چې د ځان وساتي له کبيره ګناهونو څخه.

څوک چې ګناهونه کوي او داسې نيک عملونه کوي چې د هغې ګناهونه محوه کوي اوکه چيرې نيک عمل وکړي لکه روژه نيول او دهغه ګناهونه د نورو نيکو اعمالو په وجه ښنل شوي وي ، نو بيا يې په دغه نيک عمل سره درجې اوچتيږي. شرح النووي على مسلم (٣/ ١١٣)

**٢- په رمضان المبارک مياشت کې د تراويحو فضيلت:**

په رمضان المبارک مياشت کې د تراويحو لمونځ مؤکد سنت دی چې د ماخوستن فرض لمونځ څخه وروسته شل رکعته په جماعت سره اداء کيږي او ی تراويح لمونځ څخه وروسته وتر لمونځ هم په جماعت سره اداء کيږي.

د تراويح لمونځ رسول الله صلی الله عليه وسلم شروع کړلی او په ځينو شپو کې يې په جماعت سره اداء کړی خو کله چې يې د صحابه کرامو د تراويح سره بې کچه مينه وليدله د تراويح لمونځ جماعت يې ددې وجی نه پريښود چې دا لمونځ د هغه په امت فرض ونه ګرځي.بيا د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې تراويح په جماعت سره پيل شوی او په دې باندې هميشه والی رامنځ ته شو او ټولو صحابه کرامو ور باندې موافقه وکړه او له هغه وخت څخه تر نن زمانې پورې د تراويح لمونځ مسلمانانو نه دی پريښی . البحر الرائق (٢/ ٧١)

علامه حلبي رحمه الله وايې د تروايح د شلو رکعتونو حکمت دادی چې سنت لمونځونه د فرضو او واجبو لمونځونو مکملات دي ، نو د وترو په شمول ټول لمونځونه شل دي ، نو ددې لپاره چې د مُكَمَّلِ او مُكَمِّلِ ترمنځ مساوات رعايت شي تراويح هم شل رکعته مشروع شوی. البحر الرائق (٢/ ٧٢)

په احاديثو کې تراويحو لمونځ قيام رمضان او قيام الليل هم ويل شوی دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د تراويحو په باره کې مسلمانان تشويق کړي دي او د تراويحو په باره کې يې فضيلت بيان کړی دی او فرمايلي يې دي.عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» صحيح البخاري (١/ ٤١)، صحيح مسلم (٢/ ١٧٦)

ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې قيام د رمضان وکړي(يعنې تراويح وکړي) د ايمان په بنا او د الله د رضا د طلب په نيت سره، وبه ښنل شي ورته هغه تير ګناهونه دده.

د همدې حديث په يو بل روايت کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَغِّبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَهُمْ بِعَزِيمَةٍ). مسند أحمد (١٣/ ١٩٨)

ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به ترغيب ورکولو په قيام د رمضان (تروايح) په باره کې پرته له دې چې دوی امر وکړي صحابه کرامو ته په فرض والي د تراويح.

امام عيني وايې چې مراد د( قيام رمضان ) څخه د تراويحو لمونځ دی. شرح أبي داود للعيني (٥/ ٢٧٥)

په يو بل حديث شريف کې راځي:( إِنَّ رَمَضَانَ شَهْرٌ افْتَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ صِيَامَهُ وَإِنِّي سَنَنْتُ لِلْمُسْلِمِينَ قِيَامَهُ فَمَنْ صَامَهُ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا خَرَجَ مِنْ الذُّنُوبِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ). مسند أحمد (٣/ ٢١٧)

ژباړه:- (نبي عليه السلام فرمايلي دي بيشکه په رمضان مياشت کې فرض کړي دي الله تعالى د هغې روژې او ما سنت ګرځولي دي مسلمانانو لپاره د هغې تراويح ، پس څوک چې روژې ونيسي د رمضان دايمان په تقاضا او د الله د رضا د طلب لپاره د ګناهونو څخه به داسې ووځي په شان د هغې ورځې چې زيږولی وي ده لره په کې مور دده.يعنې داسې به له ګناهونو پاک شي لکه چې د مور څخه چې پيدا شو او هيڅ ګناه يې نه درلودله.

د تراويح په اړه د ابوذر رضي الله عنه په حديث کې راځي چې نبي عليه السلام وفرمايل:( إِنَّهُ مَنْ قَامَ مَعَ الْإِمَامِ حَتَّى يَنْصَرِفَ كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ). سنن الترمذي (٣/ ١٦٩)

ژباړه:- بيشکه څوک چې دامام سره په روژه کې تراويح وکړي تر هغې پورې چې امام له لمانځه راوګرځي ، وبه ليکل شي ده ته د ټولې شپې عبادت.

ځينې خلک د سستۍ له امله تراويح په کور کې کوي حال داچې امامانو به تراويح په جماعت کې په جماعت سره کولی او وتر لمونځ هم به يې هم په جماعت سره کول. نخب الأفكار في تنقيح مباني الأخبار في شرح معاني الآثار (٥/ ٤٦٢)

**٣- په رمضان المبارک مياشت کې د قرآن عظيم الشان ختمونو فضيلتونه:**

د رمضان المبارک په مياشت کې چې د قرآن کريم مياشت ورته ويل کيږي په کارده چې په کې قرآن کريم زيات تلاوت وشي، ځکه په رمضان المبارک روژه کې د قرآن کريم تلاوت او ختم زيات فضيلت لري.

په حديث شريف کې راځي چې روژه او قرآن کريم به په قيامت کې د مسلمان شفاعت کوي.عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، أَنّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ :« الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ ، يَقُولُ الصِّيَامُ : رَبِّ إِنِي مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ ، وَيَقُولُ الْقُرْآنُ : مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَيُشَفَّعَانِ».رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْحَاكِم

ژباړه:- د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: روژه او قرآن کريم به شفاعت کوي د بنده.روژه به وايې چې ای ربه زما! منع کړی ؤ مادا شخص د خوراک او شهوت څخه په ورځ کې پس ما شفاعت کوونکی وګرځوه دده په حق کې او قرآن کريم به وايې:ما منع کړی ؤ په شپه کې له خوب څخه .بيا به دواړه شفاعت کوونکي وګرځول شي.

په کارده چې په روژه کې څوک چې حافظ نه وي د قرآن کريم ختمونه وکړي او څوک چې حافظ په تراويحو کې او بغير له تراويحو د قرآن کريم ختمونه وکړي.

جبرائيل عليه السلام به له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په رمضان کې قرآن کريم تکرارولو.

او په کوم کال کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات کيدلو په هغه کال جبرائيل عليه السلام له نبي عليه السلام سره دوه ځله قرآن کريم په رمضان کې تکرار کړ.

په حديث شريف کې راځي: (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ، وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ژباړه:- د عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم تر ټولو خلکو زيات سخي ؤ او زيات به سخې ؤ په رمضان کې هغه وخت چې د جبرائيل عليه السلام سره به مخامخ کيدلو په هره شپه د رمضان کې او ملاقات به يې کولو د جبرائيل عليه السلام په هره شپه د رمضان المبارک کې او تکرارولو به له پيغمبر عليه السلام سره قرآن کريم حافظ ابن حجر ددې حديث په شرح کې وايي: دا چې جبرائيل عليه السلام به په هر رمضان کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دقرآن کريم تکرار کولو ددې حکمت دادی چې په دې سره د نفس د غنی تجديد د عهد کيږي او غنی سبب

د سخا دی او سخاوت په شریعت کې ورکول د هغه څه دي چې مناسب وي هغه چالره چې مناسب وي چې دا د صدقې څخه عام دی او رمضان د خیراتونو موسم دی ځکه چې دالله تعالی نعمتونه په دې کې زیات وي نسبت نورو میاشتو ته. فتح الباري(١/ ٣١)

عن مجاهد رحمه الله يقال: «إِذَا خُتِمَ الْقُرْآنُ نَزَلَتِ الرَّحْمَةُ عِنْدَ خَاتِمَتِهِ، أَوْ حَضَرَتِ الرَّحْمَةُ عِنْدَ خَاتِمَتِهِ»

امام مجاهد به ویل چې داسې ویل کیږي چې کله قرآن کریم ختم شي ،نو په ختم کوونکی باندې رحمت نازل شي یا داسې حاضر شي رحمت ختم کوونکی ته. فضائل القرآن للقاسم بن سلام (ص: ١٠٧)

قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ: «مَنْ خَتَمَ الْقُرْآنَ فَلَهُ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ» . قَالَ: فَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ إِذَا خَتَمَ الْقُرْآنَ جَمَعَ أَهْلَهُ ثُمَّ دَعَا وَأَمَّنُوا عَلَى دُعَائِهِ فضائل القرآن للقاسم بن سلام (ص: ١٠٨)

ژباړه:- عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به ویل: څوک چې قرآن کریم ختم کړي ،نو دده دعاء مستجابه ده.

او عبدالله بن مسعود رضي الله به چې کله قرآن کریم ختم کړلو، نو خپل اهل به یې راټول کړل بیا به په خپله دعاء کوله او اهل به وربانديې آمین ویلی.

همدا وجه وه چې نبي علیه السلام به په تراویح کې اوږده اوږده سورته لوستل .په حدیث شریف کې راځي:«عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَقَامَ يُصَلِّي فَلَمَّا كَبَّرَ قَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ ذُو الْمَلَكُوتِ وَالْجَبَرُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ ثُمَّ قَرَأَ الْبَقَرَةَ ثُمَّ النِّسَاءَ ثُمَّ آلَ عِمْرَانَ» مسند أحمد (٣٨/ ٤٠٦)

ژباړه:- د حذیفه بن الیمان رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې زه نبي علیه السلام ته د رمضان المبارک په شپه کې راغلم ، نو هغه پاڅیده او لمونځ کولو ، کله چې یې تکبیر وویلو نو داسې یې وویل: (اللَّهُ أَكْبَرُ ذُو الْمَلَكُوتِ وَالْجَبَرُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ) بیایې د بقرې سورت ولوستلو ، بیایې د النساء سورت ولوستلو او بیایې د آل عمران سورت ولوستلو.

همدارنګه د عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کې به صحابه کرامو ډیرې اوږدې او طولاني تراویح کولی.د سائب بن یزید په روایت کې راځي: ( وَقَدْ كَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ بِالْمِئِينَ حَتَّى كُنَّا نَعْتَمِدُ عَلَى الْعِصِيِّ مِنْ طُولِ الْقِيَامِ وَمَا كُنَّا نَنْصَرِفُ إِلَّا فِي فُرُوعِ الْفَجْرِ) موطأ مالك (٢ /١٥٩)

ژباړه:- قاري به په (تراویحو ) کې هغه سورتونه لوستل چې د آیتونو تعداد به یې له سلو څخه زیات ؤ، آن تر دې پورې چې مونږ به په امساګانو تکیه کوله او مونږ به نه فارغیدلو (له تراویح) څخه مګرنیږدې سحر ته.

په بل روایت کې راځي چې صحابه کرامو به د ستنو ترمنځ رسۍ تړلی او بیابه یې پر هغې تکیا کوله.

په عامو ورځو او شپو کې به سلفو علماء کرامو د قرآن کریم د ختم لپاره مختلف عادات درلودل.

ځینو به په دوه میاشتو کې یوختم کولو، ځینو به په یوه میاشت کې یو ختم کولو او ځینونورو به په لسو شپو کې یو ځله د قرآن کریم ختم کولواو ځینو به په اتو شپو کې یو ځله قرآن کریم ختمولو، او زیاتو به په هرو درې ورځواو شپو کې یو ځل ختم کولو، ځینو به په دوه شپو او ورځو کې یو ختم کولو، ځینو په یوه ورځ اوشپه کې یو ځل قرآن کریم ختمولو او ځینوبه یوه شپه او ورځ کې دوه ځله قرآن کریم ختمولو، ځینو به درې ځله د قرآن کریم ختم کولو او ځینو اته ختمونه کړي دي څلور په ورځ کې او څلور په شپه کې . د هغه کسانو له جملې څخه چې په یوه شپه او یوه ورځ کې به یو ځل د قرآن کریم ختم کولو هغه عثمان بن عفان رضي الله عنه، تمیم داري، سعید بن جبیر، مجاهد او شافعي او نورو ؤ. التبيان في آداب حملة القرآن للنووي (ص: ٥٩)

او په رمضان المبارک میاشت کې به ځینو سلفو علماء کرامو په تراویح کې په درې شپو کې یو ځل ختم کولو او ځینو به په اوو(۷) شپو کې یو ځل قرآن کریم ختمولو چې په هغو کې قتاده رضي الله عنه شامل ، او ځینو په هرو لسو شپو کې په تراویح کې ختم کولو لکه ابورجاء العطاردي. او سلفو صحابه کرامو، تابعینو او تبع تابعینو به په رمضان په میاشت کې او غیر رمضان کې په لمانځه کې قرآن کریم تلاوت کولو. د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه په باره کې راځي چې هغه به په یوه ورځ کې د قرآن کریم ختم کولو، ځینو به قرآن کریم په رمضان کې په درې ورځو کې ختمولو، ځینو به په اوو(۷) ورځو کې ختمولو،. امام اسود نخعي رحمه الله په باره کې راځي چې هغه به په رمضان کې په دوه شپو کې قرآن کریم ختمولو. د امام مالک په حق کې راځي چې هغه به په رمضان کې د احادیثو څخه خپله توجه د قرآن کریم تلاوت ته او مصحف ته واړوله . امام ابوحنیفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله ددواړو په باره کې راځي چې هغوی به د لمانځه څخه علاوه شپیته ختمونه کول. د امام سفیان ثوري رح په باره کې راځي چې کله به رمضان المبارک داخل شو ، هغه به نور ټول عبادتونه پریښودل او د قرآن کریم تلاوت ته به یې توجه واړوله.

حافظ ابن رجب رح وایې چې په عامو ورځو کې په دوامداره توګه د درې ورځو څخه په کمه موده کې د قرآن کریم ختمول مکروه دي ماسوا د رمضان المبارک دمیاشتې څخه او د مکې مکرمې څخه ځکه په رمضان المبارک میاشت کې او په مکه مکرمه کې د شرف د زمان او مکان له امله په دې کې زیات تلاوت کول مستحب دي . لطائف المعارف (ص: ۱۸۳)

په هغو کسانو کې چې هغوی به په اوو(۷) شپو او ورځو کې یوځل د قرآن کریم ختم کولو په هغو کې عثمان بن عفان، عبدالله مسعود، زید بن ثابت او أُبی بن کعب شامل دي او په تابعینو کې عبدالرحمن بن یزید، ابراهیم نخعی شامل دي .

(عن ابْن سَمَّاعَة قَالَ سَمِعت أَبَا يُوسُف يَقُول كَانَ أَبُو حنيفَة يخْتم الْقُرْآن كل يَوْم وَلَيْلَة ختمة فَإِذا كَانَ شهر رَمَضَان ختم فِيهِ مَعَ لَيْلَة الْفطر وَيَوْم الْفطر اثْنَتَيْنِ وَسِتِّينَ ختمة) أخبار أبي حنيفة وأصحابه للصيمري (ص: ٥٥)

ژباړه:- د ابن سماعه څخه روایت دی هغه وایې چې ماد امام ابویوسف رح څخه اوریدلي دي چې وه ویل: امام ابوحنیفه رحمه الله به هره شپه قرآن کریم ختمولو او کله به چې د رمضان المبارکم میاشت شوه ، نو په دغه میاشت کې به یې د اختر په شپه او د اختر په ورځ کې دوه (٦٢) شپیته ختمونه وکړل.

**اقول قولی هذا استغفرو الله لی ولکم ولسائر المسلمین**

**والسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته**